مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

نظرمحمد مطمئن ۲۰۱۸/۰۵/۱۲

# د علماوو د سولې اړوند اعـلاميه

**د درې اړخيزه علـماوو غـونـډه**
**افغانستان ــ اندونیزیا ــ پاکستان**
**د افـغانستان ســولــه او ثبـات**

بوګور ښار، ۲۵ شعبان ۱۳۳۹ هـ ق، ۱۱ مئ ۲۰۱۸ ز. کال

له انګليسي متن څخه پښتو ته ژباړه

بسم الله الرحمن الرحيم

فَإِنْ تَنَازَعْتُمْ فِي شَيْءٍ فَرُدُّوهُ إِلَى اللَّهِ وَالرَّسُولِ إِنْ كُنْتُمْ تُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ ذَٰلِكَ خَيْرٌ وَأَحْسَنُ تَأْوِيلًا (سورة نساء-آية ۵۹)
ژباړه: که ستاسي تر مينځ په کومه چاره کښې شخړه پيښه شي؛ نو هغه د الله او رسول لوري ته ور وګرځوئ، که رښتيا تاسي پر الله ﷻ او د اخرت په ورځ ايمان لرئ. همدا کار غوره او په انجام کي ډير ښه دی.

موږ د افغانستان اسلامي جمهوريت، د اندونيزيا جمهوريت او پاکستان اسلامي جمهوريت علماء د شعبان ۲۵مه ۱۴۳۹ هـ ق کال ( مئ ۱۱مه ۲۰۱۸) د اندونيزيا په بګور ښار کي سره را ټول شوي يو، تر څو پر هغو ستونزو بحث وکړو چي زموږ افغان ورونه او خويندي او د نړۍ نورو برخو کي مسلمانان ور سره مخ دی.

د وحدت او يووالي د اصولو د لاړښووني، او همدارنګه د اسلامي ورورولئ د اصولو او تګلارې له مخي موږ د افغانستان او اسلامي نړۍ د سولې په ټينګښت کي د مرستي کولو ژمنه کوو.

د ليسزو په پام کي نيولو سره ، په افغانستان کي زموږ ورونه او خويندي د اوږدې او سختي ازموينې او مصيبت سره مخ شوي. د ټولو ستونزو سره سره، دوی هيڅ کله د سولې لپاره په مبارزه کي نهيلي شوي نه دي. دوی د يو پياوړي ملت او د پوخ باور لرونکي مسلمانانو په توګه د انساني ژوند استقلال او نيکمرغی غوره نمونه وړاندي کوي.

سولې ته د رسيدو لپاره، موږ د قرآن کريم او سنت په رڼا کي د يووالي او اتحاد د لارې مبارزه او هڅي کوو. موږ د يوه سوله ايز او سوکاله افغانستان لپاره خپل ملاتړ څرګندو، همدا ډول مشوره کوو چي علماء څه ډول کولای شي چي د سولې د ښه چاپيريال را منځته کيدو لپاره د سولې پروسه کي ښه رول ولوبوي.

ټينګار وشو چي زموږ د هڅو بنسټ؛ د امت يووالی او يو صف ساتل داسي لکه په لمانځه کي چي مسلمانان په يو صف کي دريږي، مسلمانان بايد يو بل سره اوږه په اوږه ودريږي، علماء بايد په ګډه کار وکړي چي د ستونزو له منځه وړلو او تشو (خاليګاوو ډکولو) لپاره همدوی (علماء) د اسلامي امت لپاره پُل جوړ شي.

خپل ځانو ته يادونه کوو چي الله ج موږ ته حکم کړی: "او تاسي ټول د الله ج په رسی منګولي ولګوئ او ګوندي (بېلول، پاشل کيدل) مه کوئ" ال عمران ۱۰۳ ايه.
راځئ چي همدا رسی ټينګه کړو، نو د الله ﷻ رحمت او برکت به بيرته په موږ وشي.
هغه ټکي چي توافق ورباندي وشو:
۱ ــاسلام د سولې، روڼتيا او يووالي دين دی. د اسلام کليمي اصلي ريښه له عربي (سليماً) کليمي څخه اخيستل شوی، چي معنی يي سوله او خلاصون (نجات) ده، په اسلام عقيده لرونکي بايد د رحمت او رحم په اړه د ژور غور او فکر لرونکي وي.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼي پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ

۲ - د اسلام اساسي او ربنتوني پیغام د سولي، رحمت او رحم پر اصولو ولاړ دی، له همدې امله موږ پیغام پاکستان، افغان اعلامیه او د سولې اړوند د اسلامي نړۍ د علماوو د هلو ځلو ملاتړ کوو؛ هغه هڅې چې د سولې، اسلامي ورورولۍ او د تاوتریخوالي او ترهګرۍ د مخنیوي لپاره دي.
۳ – سوله د الله ﷻ حکم او امر دی، مسلمانان مکلف دي چې د دوی په ژوند، په لیک او د ژوند تګلاره او روح کې یې عملي کړي. د مسلمانانو تر مینځ تولي شخړې او لانجې باید د قران او سنت په رڼا کې حل شي.
موږ دیني عالمان، د افغانستان د اسلامي جمهوریت د ولسمشر لخوا د فبرورۍ په ۲۸مه ۲۰۱۸، د کابل سولې پروسې د سولې او بیا پخلاینې د وړاندیز ستاینه کوو.
موږ همدارنګه د سیمه ییزو هیوادونو، اسلامي نړۍ او نړیوالې ټولنې ستاینه کوو چې د افغانستان د سولې پروسې بشپړ ملاتړ کوي.
۴ – موږ په افغانستان کې د سولې لپاره د مناسب چاپیریال غوښتنه کوو او په ټولو اړخونو ږغ کوو چې د سولې مخامخ خبرو پروسې سره یوځای شي، ځکه چې د سولې اساس په قرآن کریم کې "شورا" د مشورې په نامه یاد شوی دی. او لکه څنګه چې د الشوری سورت په 38 آیت کې اشاره شوې.
"د مؤمنانو هر کار په خپل منځي مشورې سره وي."
۵ – د پیغمبرانو د وارثانو، د قران او حدیث په تفسیر کې د مستند ږغ په توګه، دیني عالمانو (د محمد **r**، ربنتوني وارثانو) په اسلامي ټولنو کې مهم رول ولوباوه؛ ترڅو د اسلام د ریښتیني او فطري بنې ساتنه وکړي. دا چې محمد **r** رحمة للعالمین دی، له همدې کبله علماوو دغه درانه امانت پورته کولو ته خپلې اوږې ورکړي، ترڅو هغه لوړ اخلاقي اصول وساتل شي، اسلامي او انساني ورورولۍ ته وده ورکړي.
۶ – علماء ورثت الانبیاء دي، د سولې نړیوالو اسلامي ارزښتونو، روڼتیا، ټولنیز عدالت او اعتدال ته د ودې ورکولو مسولیت لري، او همدارنګه د اصولو پلې کول د یادو لاربنوونو، معیارونو د منلو او نظر کې نیولو سره د علماوو دنده ده.
۷ – د اسلامي امت علماء، په ځانګړي ډول د اندونیزیا، افغانستان او پاکستان په خیر هیوادونو علماء، د مسلمانو هیوادونو اړوند چې له ستونزو او ننګونو سره مخ دي؛ په اړه یې ژور پوهاوی لري، همدوی کولای شي چې د سولې او یووالي برخه کې په اسلامي نړۍ او ځانګړي ډول افغانستان کې مهم رول ولوبوي.
۸ – د قران کریم او محمد **r** د احادیثو په رڼا کې، د علماوو د لاربنوونو پر بنیاد په ژوند او چارو کې منځنی حالت (وسط) غوره ګڼل شوی دی.
محمد **r** فرمایي: په سمه لار ولاړشئ او اعتدال غوره کړئ ، د ورځې ، ماښام او د شپې په کومه برخه کې عبادت کوئ او خپل اصلي مقصود (جنت) ته ورسیږئ . اتم جلد ۴۷۰ حدیث، بخاري شریف.
۹ – موږ تائیدوو چې تاوتریخوالي او ترهګرۍ د هیڅ ډول مذهب، قومیت، تمدن یا قومي ډلو سره تړاو نه لري، تاوتریخوالی، افراطیت او تروریزم، ټولو د ملکي وګړو ضد کړنو او او انتحاري بریدونو ته شاملیږي، کوم چې د اسلام د سپیڅلو اصولو مخالف دي.
۱۰ – د امت د یوې کورنۍ په توګه، موږ د سولې د ټولیز بهیر ملاتړ کوو او د سولې پروسې لپاره په منظم ډول د مرستې لپاره چمتو یو، په داسې حال کې چې د سولې اړوند بلابېلو هڅو او وړاندیزو په نظر کې نیولو سره یوه سمه او مناسبه حل لاره د افغان سولې لپاره پیدا کړو.
لکه څنګه چې په لاندې ډول قران کریم او احادیثو کې ذکر شوی:

- یقیناً مؤمنان (سره) ورونه دي، نو د خپلو دوو ورونو منځ کې سوله کوئ او د الله ﷻ څخه وویریږئ ترڅو رحم درباندې وکړل شي. قران کریم، سورة الحجرات، ۱۰ ایت
- رسول الله ﷺ وفرمایل: داسې ستر عبادت در وښیم چې له روژې، لمانځه او زکاته یې درجه لوړه وي؟ هغوی (صحابه وو) وویل: ولې نه، محمد **r** وفرمایل: هغه ستر عبادت د مسلمانانو ترمنځ روغه جوړه ده. ځکه د زړونو ترمنځ د فساد لپاره شیطان تخریب کوي. د ترمذي حدیث
- د مؤمنانو مثال یو و بل ته په نږدېوالي، یو بل باندې رحم کولو او همدردۍ کې داسې دی لکه د یوه جسد، کله چې د بدن یو غړی په عذاب او درد شي، ټول بدن ورسره نارامه وي. بخاري شریف ۵۶۶۵ حدیث

۱۱ – په دې اړوند موږد افغانستان، اندونیزیا او پاکستان د علماوو رول د سولې د ودې او پرمختګ برخه کې ، د علماوو ترمنځ د قرآن، سنت او اسلامي لاربنوونو په رڼا کې د همږغۍ او اسلامي ورورولۍ د پیاوړتیا په برخه کې؛ ورڅخه ننګه کوو.
۱۲ – موږ د اندونیزیا د حکومت څخه مننه کوو چې د دریو هیوادو او اسلامي نړۍ د علماوو ترمنځ د همکارۍ د ربنتوني پروسې د پیل کولو لپاره یې مرسته وکړه. الله ﷻ دې زموږ نیک عملونه قبول کړي.

بَلِ اللَّهُ مَوْلَاكُمْ ۖ وَهُوَ خَيْرُ النَّاصِرِينَ
بلکې الله ج مو مل او ملګری دی او هماغه تر ټولو غوره مرستندوی دی. سورة العمران ۱۵۰ ایت


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

بګور ښار، د مئ میاشتي ۱۱مه ۲۰۱۸

د افغانستان علماوو ډلي مشر
مولوي عطاء الله لودین

د پاکستان علماوو ډلي مشر
پروفیسور دکتور قریشي شهاب

د اندونیزیا د علماوو د ډلي مشر
دکتور قبله ایاز


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ